مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

فدامحمد نومیر
۲۰۲۰/۰۱/۰۲

# مړه اجساد

توره اوسپنه په ډېر کوټو فولاد سي
هر ګذار چي د سوټک پرې د حداد سي

چي په مينه کي شرط کښېنوده شيريني
سر چي غر سره وهي کوهکن فرهاد سي

جور، جفا، ظلم او ستم د امرأو
تاج و تخت يي د رعيت په لاس برباد سي

د پردو د فوځ طاقت او زغم وي کله
په هر کوټ، کوټ کي پيدا ورته جانداد سي

مات و ګوډ، شل و ړانده سي همه واړه
غرو، رغو کي ترينه پاته مړه اجساد سي

هغه قوم چي د خپل سر سره کړي لوبي
د تاريخ په پاڼو پاته يي تل ياد سي

چي ځوځات د برايدن مات سي شير پور کي
د نومير پريشان خاطر به هله ښاد سي

جولای - 6 - 2010
متحده ايالات ، جنوبي کلفورني


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ